# پوه شه او خبر اوسه

ليکوال

**محمد ايوب روشن زهي**

ژباړن

**محمد عزيز پردېس**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب پېژندنه**

د کتاب نوم: **پوه شه او خبر اوسه**

ليکوال: **محمد ايوب روشن زهي**

ژباړن: **محمد عزيز پردېس**

د پښتی ډېزاين: **ضياءالله اصيل**

د چاپ کال: **۲۰۲۱/۱۴۰۰**

خپرندوی: **پردېس کلتوري او ادبي ټولنه - کندز**

چاپځای: **اندلس خپرندويه ټولنه - کابل**

برېښناليک: **mazizpardes@gmail.com**

د بيا خپراوي حقوق له خپرندوی سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ!

**خپل مهربان مشر ورور محمد حدیث پردېس ته.**

***م.ع. پردېس***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژباړن خبرې

د ښوونځي په نهم ټولګي کې وم چې مشر ورور مې محمد حديث پردېس د همدې کتاب فارسي بڼه کور ته راوړه او ما ته يې لارښوونه وکړه چې ويې ولولم. کتاب مې په مينه ولوست او ډېر مې خوښ شو، ښايي د خوښېدو يو لامل يې دا و چې کتاب په ساده او روانه ژبه ليکل شوی و، همغه وخت مې له ځان سره هوډ وکړ چې دا کتاب به پښتو ته راژباړم ترڅو زموږ پښتنې خويندې او ورونه هم ترې برخمن شي. کلونه وروسته مې فرصت وموند چې پښتو ته يې وژباړم، هيله ده ويې ولولئ او د پام وړ مو وګرځي.

**م.ع. پردېس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تقوا او پرهېزګاري

۱- **پوه شه او خبر اوسه** : هېڅکله باید خپل ځان پر نورو لوړ حساب نه کړې، غوره توب په تقوا کې دی.

۲- **پوه شه او خبر اوسه :** د هر چا اصل او نسب، د هغه تقوا ده.

۳- **پوه شه او خبر اوسه :** اخلاص او تقوا باید خپل عادت وګرځوو، ځکه د بریالیتوب رمز او کیلي ګڼل کېږي.

۴- **پوه شه او خبر اوسه :** تقوا باید انتخاب کړو، ځکه الله تعالی سره د وصال سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- **پوه شه او خبر اوسه :** هرکله چې انسان د خپل ځان په اړه فکر وکړي او تقوا اختيار کړي، نو خپل واقعي ارزښت او اصليت به ومومي.

٦- **پوه شه او خبر اوسه :** تقوا د دنيا شرف او د آخرت عزت دی، الله تعالی تقوا د بنده ګانو ترمنځ د لوړوالي معيار ټاکلی دی.

۷- **پوه شه او خبر اوسه :** په دې نړۍ کې هره دوستي، عداوت او دښمني ده؛ مګر د متقي او پرهېزګارانو دوستي تلپاتې ده.

۸- **پوه شه او خبر اوسه :** تقوا اختيار کړه، ځکه تقوا د دې سبب ګرځي چې الله تعالی ته دې ورسوي.

۹- **پوه شه او خبر اوسه :** د ځوانمردۍ تاج په تقوا کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰- **پوه شه او خبر اوسه :** تقوی الله تعالی ته د نږدې کېدو يو اصل او بنسټ دی.

۱۱- **پوه شه او خبر اوسه :** هرڅومره چې له الله تعالی وډار شئ، هغومره به ورته نږدې هم شئ.

۱۲- **پوه شه او خبر اوسه :** هرکله چې له الله تعالی څخه وډار شې، نو الله تعالی به نور خلک له تا څخه وډار کړي.

۱۳- **پوه شه او خبر اوسه :** الله تعالی ته تر ټولو نږدې کسان تر ټولو تقوا لرونکي کسان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴- **پوه شه او خبر اوسه :** تقوا لرونکی شخص تل د الله تعالی له غوسې ځخه په امن کې وي.

۱۵- **پوه شه او خبر اوسه :** ترټولو غوره ځیز، تقوا ده.

۱٦- **پوه شه او خبر اوسه :** هرځومره چې مو تقوا ډېره وي، نو هغومره به الله تعالی ته نږدې یوو.

۱۷- **پوه شه او خبر اوسه :** هر هغه ځوک چې واقعي متقي وي او هر چېرته چې وي، نو له الله تعالی ځخه به وېرېږي او هرځومره کوچنۍ تېروتنه چې تري وشي؛ ناځاپه عجیبه احساس کوي او په زړه کې یې بې قراري پیدا کېږي، تر هغه وخته چې توبه ونکړي، نو نا ارامه به وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸- **پوه شه او خبر اوسه :** هېڅوک له يو او بل څخه غوره نه دی، مګر په تقوا او پرهېزګاري کې.

۱۹- **پوه شه او خبر اوسه :** هېڅ قوم، قبيله، رنګ او نژاد غوره نه دی؛ مګر چې متقي وي.

۲۰- **پوه شه او خبر اوسه :** انسانان دوه ډوله دي:

**الف:** نېک، متقي او پرهېزګاره انسان چې الله تعالی ته نږدې وي، الله تعالی ورسره مينه لري.

**ب:** بد، بې تقوا او فاجر انسان چې الله تعالی ته نږدې نه وي نو تل د الله تعالی له لوري تر عذاب لاندې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱- **پوه شه او خبر اوسه :** جنت او روښانه راتلونکې د متقیانو او خدای غوښتونکو لپاره دی.

۲۲- **پوه شه او خبر اوسه :** د علم او پوهې خاوندان چې هر څومره د الله تعالی د لویی په هکله فکر وکړي، نو هغومره به د خپل علم او عقل پر نقص خبر شي او په زړونو کې به یې له الله تعالی څخه وېره ډېره شي او تقوا به یې څو چنده شي.

۲۳- **پوه شه او خبر اوسه :** متقي او پرهېز لرونکی شخص تل له تهمت څخه په تېښته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۴- **پوه شه او خبر اوسه :** هغه زړه چې له الله تعالی څخه وویرېږي، پرته له الله تعالی څخه به بل له هېڅ چا څخه ډار نه لري، هر چېرته او هر چا ته به د حق خبره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تکبر

۱- **پوه شه او خبر اوسه :** متکبر او ځان غوښتونکی انسان د هماغه نوې ځوانۍ ته رسېدلي چرگ په څېر دی.

۲- **پوه شه او خبر اوسه :** متکبر انسان تل خپل ځان له نورو لوړ بولي.

۳- **پوه شه او خبر اوسه :** مخکې له دې چې په ستونزو کې راگیر شې، د الله تعالی په یاد کې واوسه او خپل ځان له کبر، کینې او غرور څخه پاک کړه؛ ځکه مغروره او متکبر انسان تل په ستونزو کې راگیر وي. ( که څه هم خپله پرې خبر نه وي او ظاهراً ښه روحیه لري ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- **پوه شه او خبر اوسه :** په ناستو او غونډو کې د خپل ځان ستاینه، د غرور او تکبر د رامنځ ته کېدو سبب گرځي او د انسان د برياوو او پرمختگونو مخه ډب کوي.

۵- **پوه شه او خبر اوسه :** غرور او تکبر انسان له کورنۍ، ټولنې او هر څه څخه لرې کوي.

٦- **پوه شه او خبر اوسه :** متکبر انسان د ډول په څېر دی، ډول ښه اوچت اواز لري؛ خو منځ يې تش دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- **پوه شه او خبر اوسه :** ځان ښوونه او تکبر انسان له الله تعالی لرې کوي او شیطان ته یې نږدې کوي، ځکه غرور د شیطان له صفتونو څخه یو لوی صفت دی.

۸- **پوه شه او خبر اوسه :** هر هغه څوک چې د نورو پر وړاندې خپل ځان هرکاره او جامع الکمالات ښیي، متکبر او ذلیل دی.

۹- **پوه شه او خبر اوسه :** متکبر او ځان غوښتونکي انسانان د شیطان سرتېري دي.

۱۰- **پوه شه او خبر اوسه :** ریاکار او متکبر انسان تل د خپلو گټو او غوښتنو په فکر کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱- **پوه شه او خبر اوسه :** ځلور ځیزونه د اخلاقو د ټیټېدو کچې ځرګندونه کوي:

الف: بخل

ب: تکبر

ج: شهرت

د: بې صبري

۱۲- **پوه شه او خبر اوسه :** تکبر او ځان غوښتنه د نېکیو او ښو اعمالو د له منځه وړلو سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳- **پوه شه او خبر اوسه :** متکبر هغه څوک دی چې د الله تعالی په لویی نیوکه کوي او خپل ځان ورسره شریک ګڼي او هېڅکله هم د نېکی او د هدایت لاره نه خپلوي.

۱۴- **پوه شه او خبر اوسه :** کبرجن انسان د خیر او نیکی په ګټو نپوهېږي.

۱۵- **پوه شه او خبر اوسه :** له کبر څخه ځانونه وساتئ، عواقب یې ډېر خطرناکه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوهه، پوه او ناپوه

۱- **پوه شه او خبر اوسه :** پوه او دانا شخص هېڅکله هم پرته له مالوماتو او یا هم په بې خبرۍ کې کوم کار ته لاس نه اچوي.

۲- **پوه شه او خبر اوسه :** د دین عالم باید د ستوري په څېر واوسي، چې ناپوهان د هغوی په وسیله لارموندونکي شي.

۳- **پوه شه او خبر اوسه :** د عالم او جاهل ترمنځ توپیر همدې کې دی چې، عالم شخص تل په کارونو کې له تدبر او فکر څخه کار اخلي؛ خو جاهل بیا په زور او زر سره کارونه ترسره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- **پوه شه او خبر اوسه :** با عمله علم، د روان او ښپانده سیند په څېر دی.

۵- **پوه شه او خبر اوسه :** یو عالم او پوه شخص تل د نورو له ښو تجربو ځنخه ګټه پورته کوي او په خپل ژوند کې یې عملي کوي.

٦- **پوه شه او خبر اوسه :** ناپوه کس هر چا ته په خپل نظر ګوري او د خپل ځان په څېر یې ارزوي.

۷- **پوه شه او خبر اوسه :** هر هغه انسان چې د عالمانه حکمت او سلیم عقل درلودونکی وي، نو د هرڅه په لیدلو سره د الله تعالی لويي او قدرت درک کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸- **پوه شه او خبر اوسه :** د یوه پوه تېروتنه د یوې کښتۍ د ماتېدو په څېر ده چې، په ماتېدو به یې ټول مسافرین ډوب شي.

۹- **پوه شه او خبر اوسه :** علم یو نه خلاصېدونکی سمندر دی، چې هېڅ حد او پوله نه لري.

۱۰- **پوه شه او خبر اوسه :** د پوهې او علم خاوند ډېرې خبرې نه کوي.

۱۱- **پوه شه او خبر اوسه :** ناپوه او جاهل انسان تل د نورو خبرو په منځ کې مداخله کوي.

۱۲- **پوه شه او خبر اوسه :** ناپوه او جاهل انسان تل په تصمیم نیولو کې تېروتنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳- **پوه شه او خبر اوسه :** هغه څوک چې وايي، په هرڅه پوهېږي؛ پرته له شکه چې ناپوه دی.

۱۴- **پوه شه او خبر اوسه :** پرته له اجازې د نورو په کارونو کې مداخله کول، د ناپوهانو کار دی.

۱۵- **پوه شه او خبر اوسه :** پوه او عالم شخص موقیعت او وخت ته په کتو خبرې کوي.

۱٦- **پوه شه او خبر اوسه :** جاهل او ناپوه انسان تل پر نورو بدګمانـي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷- **پوه شه او خبر اوسه :** پوه شخص له هرې پېښې څخه درس اخلي او تجربه ترې ترلاسه کوي.

۱۸- **پوه شه او خبر اوسه :** پوه شخص په لومړي ځل د نورو سره په مخامخېدو، هغوی ځان ته راجذبوي.

۱۹- **پوه شه او خبر اوسه :** پوه او عالم شخص تل واقیعتونه مني او په درنه سترګه ورته ګوري.

۲۰- **پوه شه او خبر اوسه :** واقعي پوهه انسان د بریا او حقیقت په لور بیايي او له بدو کړنو یې ژغوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۲- **پوه شه او خبر اوسه :** علم د دښمن د نابودۍ لپاره تر ټولو غوره وسله ده.

۲۳- **پوه شه او خبر اوسه :** کله چې دې یو چا ته ښه لاره ور وښوده او بیا هم هغه په غلطه لاره ولاړ، نو پوه شه چې جاهل دی او هېڅکله به خپلې موخې ته ونه رسېږي.

۲۴- **پوه شه او خبر اوسه :** تر ټولو ناپوه او نادان کس هغه دی چې له خپل قدرت څخه ناوړه ګټه پورته کړي.

۲۵- **پوه شه او خبر اوسه** : د عالم او پوه انسان تر ټولو غوره سرمایه د هغه غوره اخلاق وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٢٦- **پوه شه او خبر اوسه :** جاهل او ناپوه انسان تل له حقیقت څخه په تېښته وي.

٢٧- **پوه شه او خبر اوسه :** د انسان تر ټولو غوره لاربښود د هغه پوهه او عمل دی.

٢٨- **پوه شه او خبر اوسه :** هغه علم چې انسان لوی رب ته ورنږدې کړي، حقیقي علم دی.

٢٩- **پوه شه او خبر اوسه :** علم د انسان غوره ملګری او ناپوهي يې تر ټولو بد دښمن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰- **پوه شه او خبر اوسه :** عالم باید په هره برخه او هر علم کې تر یو بریده مالومات ولري.

۳۱- **پوه شه او خبر اوسه :** هرڅه خپل ضد او مقابل لوری لري او د علم ضد ناپوهي دی.

۳۲- **پوه شه او خبر اوسه :** که عالم د تقوا او جاهل د جهالت په سبب سکوت اختیار کړي، نو حق به ځنګه ثرګند شي.

۳۳- **پوه شه او خبر اوسه :** د دښمن د ماتولو لپاره تر ټولو لوی څه د دیني او مذهبي عقایدو درناوی کول او د دین پر علماوو باور کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۴- **پوه شه او خبر اوسه :** په علم پوهېدل او د حق پېژندل او بیا هم پر ناوړه اعمالو سترگې پټول تر ټولو ستر خیانت دی.

۳۵- **پوه شه او خبر اوسه :** یوازې ښوونځي، مدرسې او پوهنتون ته په تگ سره علم نشي ترلاسه کېدی، بلکې پکار ده چې له علماوو او پوهانو سره هم ناسته او ولاړه وشي.

۳٦- **پوه شه او خبر اوسه :** باید د هغه علم پلوي وکړو چې د دنیا او آخرت لپاره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په عمل کې اخلاق او اخلاص

۱- **پوه شه او خبر اوسه :** اخلاق په لغت کې طبع، سجیه او سرشت ته ویل کېږي.

۲- **پوه شه او خبر اوسه :** اخلاص هغه ونه ده چې مېوه یې هېڅکله هم نه خلاصېږي.

۳- **پوه شه او خبر اوسه :** د هر عمل اصلیت او ښکلا د فاعل اخلاص پورې تړاو لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- **پوه شه او خبر اوسه :** مخلص انسان تل د نورو لپاره راحتي غواړي او داسې عمل کوي چې مقابل لوری یې هېڅکله هم نه احساسوي.

۵- **پوه شه او خبر اوسه** : څوک چې په الله تعالی ایمان ولري او مخلص واوسي، نور ټول خلک پرې باور کوي او احترام ورته لري.

٦- **پوه شه او خبر اوسه :** اخلاص د بریالیتوب راز دی او انسان د ژوند لوړو پوړونو ته رسوي.

۷- **پوه شه او خبر اوسه :** هر هغه څوک چې اخلاص خپل عادت وګرځوي، نو د ټولو د باور وړ به وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸- **پوه شه او خبر اوسه :** انسان په غوره اخلاق سره د بریالیتوب لوړو پوړونو ته رسېږي.

۹- **پوه شه او خبر اوسه :** هر هغه ځوک چې د غښتلې ارادې او اخلاص درلودونکی نه وي، نو تل به ناکامۍ سره مخ کېږي.

۱۰- **پوه شه او خبر اوسه :** اخلاص او اخلاق خپل عادت وګرځوه، تل به الله تعالی او خلکو ته نږدې واوسې.

۱۱- **پوه شه او خبر اوسه :** بې اخلاصه او ریاکاره انسان تل د نورو د هیلو او غوښتنو د پوره کولو پرځای د خپلو غوښتنو پوره کولو په لټه کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲- **پوه شه او با خبره اوسه:** د هر انسان د عمل پایله د هغه اخلاص او هڅو پورې تړاو لري.

۱۳- **پوه شه او خبر اوسه :** مخلص او رښتینی انسان د روښانه سباوون په څېر وي.

۱۴- **پوه شه او خبر اوسه :** د هر انسان اخلاص، اخلاق او اعمال د هغه د شخصیت او نسب څرګندونه کوي.

۱۵- **پوه شه او خبر اوسه :** هرکله چې په عمل کې اخلاص ونلرئ او خپلې غوښتنې له نورو څخه وغواړئ نو تل به محتاج واوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱٦- **پوه شه او خبر اوسه :** دوه څیزونه دي چې د انسان نیکي له منځه وړي:

لومړی: په عمل کې ریا او د اخلاص نشتوالی.

دویم: خپلو ګناهونو او تېروتنو ته نه پاملرنه کول.

۱۷- **پوه شه او خبر اوسه :** هر څه د یو قیمت لرونکی وي او د یو انسان واقعي قیمت د هغه په اعمالو کې د هغه د اخلاص کچې پورې تړاو لري.

۱۸- **پوه شه او خبر اوسه :** تل هڅه وکړئ چې په ژوند کې په اخلاص سره کار وکړئ او له نورو سره ښه اخلاق وکړئ، پرته له شکه چې همدا د بریالیتوب لارې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹- **پوه شه او خبر اوسه :** دا ومنئ چې اخلاص او اخلاق دوه هغه ارزښت لرونکي ځیزونه دي چې په ډېرې اسانۍ سره پرې خلک خپلولی شئ.

۲۰- **پوه شه او خبر اوسه :** غوره اخلاق تر ټولو غوره پانګه ده.

۲۱- **پوه شه او خبر اوسه** : که غواړئ په ژوند کې تل بریالي واوسئ، نو ښه اخلاق او اخلاص خپل عادت وګرځوئ.

۲۲- **پوه شه او خبر اوسه :** په هر کار کې اخلاص او د الله تعالی په نامه سره پیلول د برکتونو دروازې ستاسې په لور پرانېزي.

۲۳- **پوه شه او خبر اوسه :** اخلاص انسان د یقین پخوالي ته رسوي.

۲۴- **پوه شه او خبر اوسه :** اخلاق انسان محبوب او ښښونکی کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نږۍ او د ګناهونو شوق

۱- **پوه شه او خبر اوسه :** ګناهونو ته په کمه سترګه کتل، د الله تعالی څخه د لرې والي سبب ګرځي.

۲- **پوه شه او خبر اوسه :** د ډېرو خواهشاتو د له منځه وړلو لپاره د سپېڅلي قران تلاوت خپل عادت وګرځوئ.

۳- **پوه شه او خبر اوسه :** هر هغه څوک چې موخه يې يوازې نړۍ وي، نو هېڅکله به خپلې موخې او حق ته ونه رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- **پوه شه او خبر اوسه :** د ګناهونو دوام زړه توروي او تاسې د خير کارونو په نسبت بې مينې کوي.

۵- **پوه شه او خبر اوسه :** نړۍ د روانو اوبو په څېر ده چې څانګړې تمځای نلري.

٦- **پوه شه او خبر اوسه :** هغه شخص چې هوس ناکه وي، حيا او غيرت يې له منځه ځي او د هر کار کول ورته اسانه وي.

٧- **پوه شه او خبر اوسه :** دا چې خپله په ګناهونو کې غرق واوسئ او تل د خواهشاتو په لټه کې ياست، نو په دې اړه ملامت خپله يئ او پړه يې پر بل چا مه اچوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخلاص

۱- **پوه شه او خبر اوسه :** اخلاص هغه ونه ده چې مېوه يې هېڅکله هم نه خلاصېږي.

۲- **پوه شه او خبر اوسه :** اخلاص د بريالیتوب رمز دی.

۳- **پوه شه او خبر اوسه :** هر هغه څوک چې اخلاق خپل عادت وګرځوي، نو د ټولو په زړونو کې به ځانګړی ځای ومومي.

۴- **پوه شه او خبر اوسه :** هر هغه څوک چې پخه اراده او اخلاص ونلري، نو تل به د بدمرغيو سره لاس او ګرېوان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- **پوه شه او خبر اوسه :** مخلص انسان هېڅکله هم له ماتې سره نه مخ کېږي.

٦- **پوه شه او خبر اوسه :** د هر چا اخلاق او اخلاص د هغه د نسب او شخصیت ښه والی بیانوي.

۷- **پوه شه او خبر اوسه :** دوه څیزونه دي چې ستاسې نیکي له منځه وړي:

لومړی: په عمل کې د اخلاص نشتون.

دویم: پر خپلو تېروتنو او ګناهونو ټینګار کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نفس غوښتنې او ګناوې

۱- **پوه شه او خبر اوسه :** د ګناهونو بابېزه ګڼل له الله تعالی څخه د لرې والي سبب ګرځي.

۲- **پوه شه او خبر اوسه** : د قران تلاوت د زړه د سکون سبب ګرځي.

۳- **پوه شه او خبر اوسه :** نړۍ د روانو اوبو په څېر ده چې هېڅ تمځای نلري.

۴- **پوه شه او خبر اوسه :** نړۍ، مال او شتمنۍ سره بې کچې مینه د بدمرغۍ سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عقل، تمه او هیله

۱- **پوه شه او خبر اوسه** : د انسان تر ټولو لوی رهبر د هغه عقل دی.

۲- **پوه شه او خبر اوسه :** بې ځایه هیلې انسان تورو کندو ته غورځوي.

۳- **پوه شه او خبر اوسه :** تمه انسان له رزق څخه محروموي.

۴- **پوه شه او خبر اوسه :** تمه لرونکی او بې ارادې انسان د همغه چت په څېر دی چې ستنې ونلري.

۵- **پوه شه او خبر اوسه :** له تمې څخه ډډه وکړئ، ځکه تاسې خپلې موخې ته نه پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦- **پوه شه او خبر اوسه :** عقل لرونکی انسان خونسرده وي او تل له تفکر او تدبر څخه ګټه پورته کوي.

٧- **پوه شه او خبر اوسه :** عقل د انسان تر ټولو غوره زینت دی.

٨- **پوه شه او خبر اوسه :** د بې ځایه هیلې او تمې پرځای هڅه او کوښښ خپل عادت وګرځوئ.

٩- **پوه شه او خبر اوسه :** لومړنی هغه څه چې شیطان د هغه په وسیله انسان ته چل ورکړ، هغه تمه او حرص و.

١٠- **پوه شه او خبر اوسه :** له حده وتلې او بې ځایه هیلې او تمې انسان په غفلت کې پاتې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شکر، د الله تعالی یاد او قدرت

۱- **پوه شه او خبر اوسه :** په هر ډول حالاتو کې باید د الله تعالی شکر ادا شي، په خوښۍ کې هر څوک شکرانه ادا کوي؛ هڅه باید وشي، چې په ستونزمنو حالاتو کې هم د الله تعالی له یاد څخه غافل نشو.

۲- **پوه شه او خبر اوسه :** که انسان لږ زیر شي، له کوچنیو موجوداتو څخه نیولې تر لویو موجوداتو پورې ټول د الله تعالی د قدرت یوه ښکاره بېلګه ده.

۳- **پوه شه او خبر اوسه :** هر څوک چې تل له الله تعالی څخهووېرېږي، نو خلک به هم ورته احترام کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- **پوه شه او خبر اوسه :** په حقیقت کې هره ستونزه او کړاو د انسان لپاره یو درس دی.

۵- **پوه شه او خبر اوسه :** د الله تعالی له نعمتونو څخه ګټه اخیستل او د هغو شکرانه ادا کول د نېکمرغۍ او ښېرازۍ سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# صبر او صداقت

۱- **پوه شه او خبر اوسه :** صابر شخص تل په ښو موقعیتونو کې وي.

۲- **پوه شه او خبر اوسه :** هر قفل د ځان لپاره کیلي لري او د خلکو د زړونو کلیانې صداقت دی، یعنې که له ټولو سره صداقت وکړې نو د هغوی په زړونو کې به ځانګړی ځای ومومې.

۳- **پوه شه او خبر اوسه :** د صبر تر ټولو غوره موقع د مصیبت وخت دی.

۴- **پوه شه او خبر اوسه :** صادق شخص هېڅکله پرته له تفکره خوله نه پرانېزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ادب او تجربه

۱- **پوه شه او خبر اوسه :** با ادبه شخص ته تل د نورو لخوا احترام کېږي.

۲- **پوه شه او خبر اوسه :** تجربه د بریالیتوب لپاره تر ټولو ښه لار ده.

۳- **پوه شه او خبر اوسه :** ادب، انسان د زړونو محبوب گرځوي.

۴- **پوه شه او خبر اوسه :** تجربه د انسان د علمیت کچه پورته کوي او د پخووالي پړاو ته يې رسوي.

۵- **پوه شه او خبر اوسه :** تجربه لرونکی انسان تل تېزبينه او هوښیار وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډېر خوراک، ډېرې خبرې کول او شوخي

۱- **پوه شه او خبر اوسه** : که تل د ګېډې په لټه کې شې نو رسوا به شې.

۲- **پوه شه او خبر اوسه :** هر هغه څوک چې ډېر غږېږي، هر څوک ترې تښتي.

۳- **پوه شه او خبر اوسه :** ډېره او بې ځايه شوخي انساني حرمت له منځه وړي.

۴- **پوه شه او خبر اوسه :** ډېر ډوډۍ خوړونکی تل بې حوصلې او بې حاله وي او هر چېرته خوب وړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خيانت او دروغ ويل

۱- **پوه شه او خبر اوسه :** تر ټولو لوی خيانت له حق څخه منکرېدل دي.

۲- **پوه شه او خبر اوسه :** دروغجن شخص تل په خپلو خبرو کې بندېږي او د نورو پام ځان ته را اړوي.

۳- **پوه شه او خبر اوسه :** خائن انسان کله چې خيانت وکړي، لالهاند او لړزانده وي.

۴- **پوه شه او خبر اوسه :** يو دروغ کولی شي چې فتنې رامنځ ته کړي.

۵- **پوه شه او خبر اوسه :** دروغجن تل د الله تعالی رحمت څخه لرې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هر څه مور

۱- **پوه شه او خبر اوسه :** شراب د ټولو خبائثو مور ده.

۲- **پوه شه او خبر اوسه :** ډېر خوراک د ټولو ناروغیو مور ده.

۳- **پوه شه او خبر اوسه** : بې فکري د ټولو تېروتنو مور ده.

۴- **پوه شه او خبر اوسه :** پر الله تعالی توکل د ټولو بریالیتوبونو مور ده.

۵- **پوه شه او خبر اوسه** : کینه کول د ټولو رنځونو مور او اساس دی.

٦- **پوه شه او خبر اوسه :** د الله تعالی یاد د ټولو خوښیو اساس دی.

۷- **پوه شه او خبر اوسه :** ښه اخلاق د ټولو نېکیو مور ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸- **پوه شه او خبر اوسه :** خیانت د ټولو بې باوریو مور ده.

۹- **پوه شه او خبر اوسه :** عجله د ټولو خرابیو مور ده.

۱۰- **پوه شه او خبر اوسه :** له مشرانو سره په مشورې کې خیر دی.

۱۱- **پوه شه او خبر اوسه :** بې ځایه وخت تېرول د ژوند تباهـي ده.

۱۲- **پوه شه او خبر اوسه :** د مور او پلار درناوی د اولاد لومړنی مسؤلیت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بېلابېل موضوعات

۱- **پوه شه او خبر اوسه :** د هرې پوښتنې ځواب په پوره تفکر او صبر سره ورکړئ.

۲- **پوه شه او خبر اوسه :** بې حجابه او په ښارونو کې ډېرې گرځېدونکې ښځې د شيطان استازې دي.

۳- **پوه شه او خبر اوسه :** ډېر پښېماني کول او حسرت خوړل نېکي له منځه وړي.

۴- **پوه شه او خبر اوسه :** هر ښکاري په پاى کې خپله هم ښکار کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- **پوه شه او خبر اوسه :** باید حق ووایو تر څو حقیقت ته ورسېږو.

٦- **پوه شه او خبر اوسه :** د حرام مال خوړل د دوزخ د اور خوړل دي.

۷- **پوه شه او خبر اوسه :** بې هنره او بې مسلکه شخص هېڅ ارزښت نلري.

۸- **پوه شه او خبر اوسه :** په خپل وخت لمونځ کول انسان ته سکون وربښي.

۹- **پوه شه او خبر اوسه :** د ملي ارزښتونو، ملي ګټو او ملي وياړونو ساتل او ورته احترام کول د اتحاد او يووالي سبب ګرځي.

۱۰- **پوه شه او خبر اوسه :** حق غوښتونکی واوسئ ترڅو حق ته ورسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱- **پوه شه او خبر اوسه :** تل درې دښمنان انسان ته په کمین کې وي:
اماره نفس، د شهوت اور، شیطان.

۱۲- **پوه شه او خبر اوسه :** بدګماني عقیده له منځه وړي.

۱۳- **پوه شه او خبر اوسه :** ملګرو سره مینه وکړئ، ښایي سبا ونه واوسئ.

۱۴- **پوه شه او خبر اوسه :** له ظلم څخه ډډه وکړئ، ځکه د هر ظالم پر سر
بل ظالم زور موجود وي.

۱۵- **پوه شه او خبر اوسه :** فرمانبرداره مېرمن ګنج او خزانه ده.

۱٦- **پوه شه او خبر اوسه :** د واقعي ملګري زړه مه ماتوئ.

۱۷- **پوه شه او خبر اوسه :** مکار سوداګر تل زیان کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸- **پوه شه او خبر اوسه :** د کورنۍ رضایت د الله تعالی رضایت دی.

۲۰- **پوه شه او خبر اوسه :** ترټولو حیا داره او با عزته مېرمن دا ځانګړنې لري: قناعت کول، په نامحرمه مجلسونو کې نه کښېناستل او په لوړ غږ نه خندېدل، د نا محرمانو پر وړاندې ځان نه سینګارول، له خاوند سره په ستونزمنو شېبو کې همدردي کول، د کور او اولادونو ستونزو ته ځان رسول.

۲۱- **پوه شه او خبر اوسه :** تل خوښ واوسئ او نورو سره ښه وکړئ.

۲۲- **پوه شه او خبر اوسه** : خپله شتمني پر بې ځایه کارونو مه لږوئ.

۲۳- **پوه شه او خبر اوسه :** د هر نظام امنیت د هغه نظام عدل پورې تړاو لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۴- **پوه شه او خبر اوسه :** ځواني ستر نعمت دی، باید ښه ګټه ترې پورته شي.

۲۵- **پوه شه او خبر اوسه :** د ارواپوهنې له اړخه انسانان په دوه برخو وېشل کېږي: لومړی: هغه انسانان چې مهربانه دي خو زور نلري. دويم: هغه انسانان چې بد دي خو زور لري.

۲٦- **پوه شه او خبر اوسه :** درې ځېزونه انسان حماقت ته نږدې کوي:

لومړی: دروغو سره عادت کېدل.

دويم: له غلط کلتور ځخه ملاتړ.

درېيم: د نورو د بد عادت سره عادت اخيستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه چې دا کتاب مو ولوسته!!!

## پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**